

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

# علمي او ذهني پوښتنې او ځوابونه

لیکوال

ډاکتر جاوید اوریاخېل

pdf by melma



Download from:aghalibrary.com

عنایت

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

بشپړ حقوق خوندي دي

**كتاب پېژندنه:**

د كتاب نوم: علمي او ذهني پوښتنې او ځوابونه

ليكوال: ډاكترجاويد (اورياخيل)

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوكه

د چاپ كال: ۱۳۹۶ حمل

د چاپ وار: لومړى

ډيزاين/ ايډيټ چارې: عبدالهادي اثر ۰۷۸۸۰۰۳۷۰۳

خپرندوى: عنايت خپرندويه ټولنه

**ادرس:**

اسحاق زى ماركيټ لاندې منزل جلال اباد ښار افغانستان

۰۷۹۱۹۸۰۸۰۱-:-:۰۷۸۸۷۷۰۷۰۸

Mrinayat_qaree@yahoo.com

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

## یادښت

ډیر تفاوت شته په انسان کې د معنی په لحاظ
واړه لګیا دي ځینې خان ځینې جهان جوړوي

د لوی او بخښونکي رب په سپیڅلي نامه
د علمي کتابونو د چاپ د وطن د بچیانو لپاره خدمت دی او هر عاقل، باسواده او علمي شخص په دې مکلف دی چې خپلو وطنوالو ته تر خپله وسه خواري وکړي او یو څه علمي اثار وطنوالو ته وړاندې کړي.
کتب خانه کې ناست وم یو نا اشنا ملګري(محترم ډاکټر جاوید اوراخیل) راته کتاب راوړ او ټینګار یې وکړ چې لازماً یې راته چاپ کړه کتاب مې واړوه راواړه خورا ګټور توکي مې پکې تر سترګو کړل انشاء الله چې لوستونکي به پکې څه علمي او ګټور شیان تر لاسه کړي .

په ټوله اسلامي مینه
عنایت خپرندویه ټولنه

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

# سریزه

علم هغه بَله او روښانه ډیوه ده، چې په راتلو سره یې تیارې لمنځه ځي او رڼاګانې منځته راځي، خلک یې په وسیله خپل هدف ته ځان رسوي دنیائي ګټې پیاوړې کېږي، له غلامۍ خلاصېږي او نورو خلکو ته یې فایده رسېږي.

ګرانو محترمو! د افغانستان جنګ ځپلو تنکیو ماشومانو د ذهني ازمایښت، ودې او پرمختګ، لپاره ما د ذهني ازمایښتي سوال او ځواب یوه لړۍ برابره کړې، چې ستاسو ذهنونه سالمه وده او انکشاف وکړي، دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی له ډېره وخته وروسته او له ډېرو هڅو وروسته تیار کړ، الله تعالی دې وکړي، چې زما دغه ناچیزه هڅه په ډېر څه قبوله کړي، په ریښتنې، مهربانۍ او انساني همدردۍ له مخې که مو زما په دې کتاب کې کومه نیمګړتیا پیدا کړه نو له ما سره یې شریک کړئ، چې په راتلونکو چاپونو کې یې اصلاحي بڼه چاپ شي.

په پای کې له تاسو محترمو لوستونکو څخه په خورا درنښت غوښتنه کوم، چې تعلیم ته مو مخه کړئ، چې په ګډه سره ګران افغانستان په خپلو متو او لاسونو ودان کړو.

درنښت

***

په ژوند هیڅ باور نشته څومره چې کولای شئ، له خلکو سره مرسته وکړئ.

(دحضرت امام حسین رض له ویناوو څخه)

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

## بسم الله الرحمن الرحيم

**سوال:** د افغانستان پایتخت کوم دي؟

**ځواب:** کابل.

**سوال:** افغانستان له کومو هېوادنو څخه دي؟

**ځواب:** له غرنيو هېوادونو څخه.

**سوال:** د افغانستان لوی غرونه کوم دي؟

**ځواب:** دهندوکش غرونه.

**سوال:** هغه کوم حيوان دی، چې عمر يې تر ټولو زيات دي؟

**ځواب:** سمساره.

**سوال:** د افغانستان هغه کومه مېرمن ده، چې تاريخی سترگې لري؟

**ځواب:** شربت گله.

**سوال:** هغه کوم قفس ده، چې مرغۍ په کې نه ساتل کېږي؟

**ځواب:** له پښتۍ ډکه سينه.

**سوال:** بالښت ته په کره پښتو کې څه وايي؟

**ځواب:** ډاډوځی.

**سوال:** اسکريم ته په کره پښتو کې څه وايي؟

**ځواب:** سړه پی.

**سوال:** معلم ته په کره پښتو کې څه وايي؟

**ځواب:** ښوونکی.

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

**سوال:** محصل ته په کره پښتو کې څه وايي؟
**ځواب:** زده کړيال.
**سوال:** يو من څو کيلو کېږي؟
**ځواب:** (۷) کيلو.
**سوال:** يو من څو چارکه او څو پاوه کېږي؟
**ځواب:** (۴) چارکه او (۱٦) پاوه کېږي.
**سوال:** يو کيلو څو گرامه کېږي؟
**ځواب:** (۱۰۰۰) گرامه.
**سوال:** يو گرام څو ملي گرامه کېږي؟
**ځواب:** (۱۰۰۰) ملي گرامه.
**سوال:** هغه کومه ولسوالۍ ده، چې د يو حرف په لرې کولو د يو هېواد نوم ترې جوړېږي؟
**ځواب:** اچين ولسوالۍ(چين) .
**سوال:** اول جنگ په دنيا کې په کوم کال واقع شو؟
**ځواب:** (۱۹۱۴) .
**سوال:** هغه کوم حيوان دی، چې نسبت نور بدن ته يې دماغ لوی دي؟
**ځواب:** (مېږی) .
**سوال:** هغه دکوم هېواد نوم دی، چې قلم ترې نه پورته کېږي؟
**ځواب:** (مصر) .
**سوال:** هغه کومه کليمه ده، چې قلم ترې نه پورته کېږي؟
**ځواب:** (لمر) .

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

**سوال:** یو ملي ډېر دی که یو سی سي؟

**ځواب:** یو شای دی.

**سوال:** دځمکې په سرلومړنی غر کوم دي؟

**ځواب:** ابی قبیس غر.

**سوال:** په افغانستان د شاهي نظام وروستنی پاچا څوک وه؟

**ځواب:** محمد ظاهر شاه.

**سوال:** روسانو کله پر افغانستان نظامي یرغل وکړ؟

**ځواب:** (۱۳۵۸) هجري شمسي.

**سوال:** روسان کله له افغانستان څخه ووتل؟

**ځواب:** (۱۳٦۷) هجري شمسي.

**سوال:** طالبانو په څوم کال کابل ونیوه؟

**ځواب:** (۱۳۷۵) هجري شمسي.

**سوال:** د افغانستان کوم ولایت دی، چې ټکی نه لري؟

**ځواب:** (لوگر) .

**سوال:** امریکا کله پر افغانستان نظامي یر غل وکړ؟

**ځواب:** (۱۳۸۱) کال.

**سوال:** حامد کرزی څو دورې پاچاهی وکړه؟

**ځواب:** (دوه دورې) .

**سوال:** د افغانستان په دې لسیزو کې هغه کوم جمهور رییس وو، چې واک یې په سوله ایزه توگه بل رییس جمهور ته وسپاره؟

**ځواب:** حامدکرزی.

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

**سوال:** وچ کلک د کولمو ډک دا څه شي دي؟

**ځواب:** (غلبېل) .

**سوال:** د اشرف غني ښځه دکوم هېواد ده؟

**ځواب:** (د لبنان) .

**سوال:** اشرف غني ښځه څه نومېده؟

**ځواب:** (رولا غني) .

**سوال:** اشرف غني د افغانستان د کوم ولايت ده؟

**ځواب:** (د لوګر) .

**سوال:** څادر مې لوی ټولولی نشم، ځونډې مې ډېر دی شمارلی نشم؟

**ځواب:** د اسمان ستوري.

**سوال:** شوپرک په شپه کې د څه شي په واسطه لار پيدا کوي؟

**ځواب:** د غږ له انګازې سره.

**سوال:** د لومړۍ ورځې سپوږمۍ ته څه وايي؟

**ځواب:** (مياشت) .

**سوال:** د افغانستان ملي ژبې کومې دي؟

**ځواب:** پښتو او درې.

**سوال:** هغه کومه ونه ده، چې لرګی نه لري؟

**ځواب:** دکېلې ونه.

**سوال:** د ګلانو پاچا کوم ګل ته وايي؟

**ځواب:** ګلاب ته.

**سوال:** په نړۍ کې کومه مېوه ډېره خوړل کېږي؟

کتاب و قرطاسیه
مسئول سید فرهاد هاشمی
موبایل
0796109091

**ځواب:** کېله.

**سوال:** د افغانستان ملي لوبه کومه ده؟

**ځواب:** بزکشي (وزلوبه) .

**سوال:** هغه کوم مرغه دی، چې د سر له پورته کولو پرته اوبه څښي؟

**ځواب:** کوتره.

**سوال:** په حیواناتو کې تیز رنګ دکوم حیوان ده؟

**ځواب:** د پړانګ.

**سوال:** چې خوري ډېرېږي، چې نیسي کمېږي؟

**ځواب:** روژه.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې بې پښو غرړونو ته ننوځي؟

**ځواب:** غږ.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې څه ترې راخلې لویږي، چې څه په کې اچوې ډکېږي؟

ځواب کنده یا (کوهی) .

**سوال:** هغه څه دی، چې ژاړي سترګې نه لري؟

**ځواب:** په اسمان کې وریځې.

**سوال:** هغه څه دی، چې پاڼې لري نبات نه دی، جلد (پوستکی) لري حیوان نه دی، ژبه لري انسان نه دی؟

**ځواب:** کتاب.

**سوال:** د هندوانو هدیره، چېرته ده؟

**ځواب:** هندوان هدیره نه لري.

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

**سوال:** هغه څه شی دی، چې هر انسان يې ارمانجن دی؟

**ځواب:** جنت.

**سوال:** په افغانستان کې لومړی کوم پوهنځی جوړ شو؟

**ځواب:** طب پوهنځی.

**سوال:** هغه کومه مېوه ده، چې نوم يې له دواړو خواو لوستل کېږي؟

**ځواب:** توت.

**سوال:** د افغانستان اساسي قانون څو مادې لري؟

**ځواب:** (۱٦۲) مادې.

**سوال:** د افغانستان اساسي قانون څو فصلونه لري؟

**ځواب:** (۱۲) فصلونه.

**سوال:** افغانستان څو ولايتونه لري؟

**ځواب:** (۳۴) .

**سوال:** په نړۍ کې کوم هېواد لږ نفوس لري؟

**ځواب:** واتيکان.

**سوال:** په نړۍ کې زيات نفوس دکوم هېواد دی؟

**ځواب:** چين.

**سوال:** د ځمکې له پلوه د افغانستان تر ټولو لوی ولايت کوم يو دی؟

**ځواب:** فراه.

**سوال:** پاکستان له کوم هېواد څخه خپله ازادي اخيستی؟

**ځواب:** له انگلستان څخه.

**سوال:** دکوم کليمې په سرچپه کولو سره د بدن يو غړی لاسته راځي؟

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

**ځواب:** سال څخه (لاس) .

**سوال:** هغه څه شی دی، چې خوراک کوي مړېږي نه؟

**ځواب:** اور.

**سوال:** هغه کوم توری دی، چې جاوید ظاهر په نوم کې شته، خو بشیر کې نشته؟

**ځواب:** (ا) الف توری.

**سوال:** د مسلمانانو ورځ کومه ده؟

**ځواب:** د جمعې ورځ.

**سوال:** د یهودو ورځ کومه ده؟

**ځواب:** د شنبې ورځ.

**سوال:** د نصاراوو ورځ کومه ده؟

**ځواب:** د یکشنبې ورځ.

**سوال:** لومړی بادشاه، چې د پښتو ژبې سره یې مینه درلوده څه نومېده؟

**ځواب:** امیر کروړ.

**سوال:** هغه کوم افغان و، چې په شپږو ورځو کې یې ژبه یادوله؟

**ځواب:** سید جمال الدین افغان.

**سوال:** د انسان په بدن کې هغه کوم هډوکی دی، چې خوځښت نه لري؟

**ځواب:** جمجمه (د سر هډوکی) .

**سوال:** ساعت د کوم مسلمان په وخت کې جوړ شو؟

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

**ځواب:** د هارون الرشيد په وخت کې.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې ستا په نظر کوچنی ښکاري، مګر ډېر لوی دی؟

**ځواب:** ګناه.

**سوال:** د پاکستان لومړنی نظامي حکومت بنسټ ايښودونکې څوک وو؟

**ځواب:** جنرال ضياءالحق.

**سوال:** سر يې شته ماغذه يې نشته، خېټه يې شته خو کولمې نشته، خوله لري غاښونه نه لري؟

**ځواب:** چای جوش.

**سوال:** په پښتو ژبه کې لومړنی شعر چا ويلی؟

**ځواب:** اميرکروړ.

**سوال:** هغه کوم هېواد دی، چې د پايتخت(مرکز) نوم يې معکوس شي د مور کليمه ترې جوړ شي؟

**ځواب:** د ايټاليا پايتخت روم (مور) .

**سوال:** هغه د کوم هېواد پاتخت نوم دی، چې (ی) توری ورسره يو ځای شي د سبزۍ معنی ورکوي؟

**ځواب:** روم(رومی) .

**سوال:** هغه د کوم مضمون نوم دی، چې سرچپه شي د خيرات کليمه ترې جوړه شي؟

**ځواب:** تاريخ.

Download from:aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

**سوال:** په افغانستان کې لومړی کوم بانک تاسیس شو؟

**ځواب:** د افغانستان ملي بانک.

**سوال:** اباما د امریکا څووم جمهوررییس دی؟

**ځواب:** (۴۴) .

**سوال:** هغه د کومې مېوې نوم دی، چې ددوه ځایو نومونه په کې دي؟

**ځواب:** (هندوانه) هند او (وانه) په پښتو کې یو ځای دی.

**سوال:** په افغانستان کې د ولسمشرۍ لومړی انتخابات په کوم کال ترسره شو؟

**ځواب:** (۱۳۸۳هجري شمسي) کال.

**سوال:** د دنیا جگه ترینه څوکه څه نومېږي؟

**ځواب:** ایوریست.

**سوال:** د کونړ کومه ولسوالۍ ده، چې د دوه ځناورو نومونه په کې ذکرشوي؟

**ځواب:** (اسمار) اس او مار.

**سوال:** اولنی فلز څه نومېږي، چې د انسانانو ترې په خالص ډول گټه واخسته؟

**ځواب:** (مس) .

**سوال:** مصنوعي سپوږمی، چې فضا ته پورته شوه څه نومېده؟

**ځواب:** اسپوتیک.

**سوال:** دکوم رنگ معکوس څخه د یو هېواد نوم جوړېږي؟

**ځواب:** سور(روس) .

Scanned by CamScanner

**سوال:** په دنیا کې کوم هېواد ډېر غنم واردوي؟

**ځواب:** انګلستان.

**سوال:** هغه کوم هېواد دی، چې د افغانستان څخه زیات وخت وړی اخلي؟

**ځواب:** هند.

**سوال:** د اس په روزلو کې لومړی درجه هېواد کوم دی؟

**ځواب:** برازیل.

**سوال:** هغه کوم ګل دی، چې بوی کېږي نه، مګرخوړل کېږي؟

**ځواب:** ګلپي ګل.

**سوال:** د امریکا برغ څو ستوري لري؟

**ځواب:** (۵۰) .

**سوال:** د افغانستان بیرغ څو رنګونه لري؟

**ځواب:** (۳) سور، تور او زرغون (شین) .

**سوال:** د کومې مېوې لومړنی دوه تورې ترې وباسي ښکار وسیله ترې لاسته راشي؟

**ځواب:** بادام (دام) .

**سوال:** هغه کومه مېوه ده، چې وړی شي خوړای شي، تړی شي څښی شي، او اور پرې بلوای شي؟

**ځواب:** کوپره.

**سوال:** سردار محمد داود خان په چا کودتا وکړه؟

**ځواب:** په محمد ظاهر شاه.

Scanned by CamScanner

**سوال:** په بازار کې ډېر دی اخلو یې نه، چې واخلو اغوندو یې نـه، چـې واغندو بیا اوباسونه دا څه ده؟

**ځواب:** کفن.

**سوال:** محمد ظاهر شاه د چا په پاچاهی کې مړ شو؟

**ځواب:** د حامد کرزی.

**سوال:** هغه څه دی، چې څم راپسې دی، بل چې څم پاتې کېږي؟

**ځواب:** سیوری ځي پل پاتې کېږي.

**سوال:** د کوم پاچا په وخت کې په لومړی ځل راډیو جوړه شوه؟

**ځواب:** د امیر امان الله خان.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې د ورځې وي د شپې نه وي؟

**ځواب:** لمر.

**سوال:** امیر امان الله خان په څو کلنی کې پاچا شو؟

**ځواب:** (۲۰) کلنی.

**سوال:** کال څو فصلونه لري؟

**ځواب:** څلور (۴) .

**سوال:** هغه کوم ملک دی، چې یوه سینما هم نه لري؟

**ځواب:** سعودي عربستان.

**سوال:** هغه کوم پاچا و، چې په خپلو وینو یې کتاب لیکلی و؟

**ځواب:** سوټوکو.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې سیوری نه لري؟

**ځواب:** لمر.

Scanned by CamScanner

**سوال:** هغه څه دی، چې خدايي حلال دی؟

**ځواب:** ماهي.

**سوال:** هغه کوم څيز دی څومره، چې وېشې همغومره زياتېږي؟

**ځواب:** علم.

**سوال:** په پاکستان کې د نوې زېږېدلې ماشوم غاښونه کوم رنګ وي، تور، سپين، ژيړ؟

**ځواب:** د نوي ماشوم غاښونه وي.

**سوال:** هغه څه دی، مونږ خبروي هر ځای کار کوي؟

**ځواب:** راډيو.

**سوال:** هغه څه دی، چې خوله د اوسپنې او نور ټول لرگی دی؟

**ځواب:** سپاره.

**سوال:** له مړي څخه ژوندی پيداکېږي او ژونديو څخه مړی؟

**ځواب:** چرگه او هگی.

**سوال:** مړ راپاڅي ژوندی نيسي؟

**ځواب:** د موږکانو تلک.

**سوال:** هغه څه دی، غاښونه لري، خو کولمې نه لري؟

**ځواب:** ږمنځ.

**سوال:** هغه څه دی، پوستکې يې د غوا ده خو غوا نه دی؟

**ځواب:** خرگوش(سويک) .

**سوال:** يو ساعت څو دقيقې کېږي؟

**ځواب:** شپېته (٦٠) .

Scanned by CamScanner

**سوال:** کومه مرغۍ د زابل او کابل د نیمایي څخه جوړه شوي؟

**ځواب:** بلبل.

**سوال:** ماهي په کال کې څو هګۍ اچوي؟

**ځواب:** ماهي هګۍ نه اچوي.

**سوال:** هغه کوم مرغه دی، هګۍ نه اچوي بچي خېږي او بې بڼکو الوځي؟

**ځواب:** شوپرک.

**سوال:** خېټه کې اوبه، ملا کې اور، سر کې لرګی، داڅه ده؟

**ځواب:** چلم.

**سوال:** هغه کوم حروف دي، چې د هرې خوا لوستل کېږي؟

**ځواب:** نون، واو، میم.

**سوال:** هغه کوم حیوان دی، چې تراوسه یې اسمان نه دی لیدلی؟

**ځواب:** خوګ.

**سوال:** په کال کې هغه کومه میاشت ده، چې نهه ویشت ورځې لري؟

**ځواب:** حوت.

**سوال:** هغه څه دی اول په څلورو روان وي، بیا په دوه وو، بیا په درېیو؟

**ځواب:** انسان دی؛ ځکه اول ماشوم وي په خاپوړو، بیا غټ شي په دوه پښو، او چې زوړ شي بیا په دوه پښو او یوه امسا روان وي.

**سوال:** په کوم هېواد کې د لومړي ځل لپاره بانک پرانستل شو؟

**ځواب:** په ایټالیا کې.

**سوال:** هغه کوم هېواد دی، چې په لومړي ځل یې ماشیني لاس جوړ

کړ؟

**ځواب:** جاپان.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې غریب او مالدار یې دواړه لري؟

**ځواب:** نوم.

**سوال:** څومره، چې یې کشوي همغومره لنډېږي؟

**ځواب:** سګرېټ.

**سوال:** چې څومره مزل وکړي، ستړی کېږي نه، څه شی دی؟

**ځواب:** اوبه.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې پرته د فراشوت، وزرونو، لاسونو او پښو پرته په هوا کې الوځي؟

**ځواب:** دود (لوګی).

**سوال:** هغه څه شی دی، چې څومره یې وهې هغومره غټېږي؟

**ځواب:** کوهی.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې ملکیت کې ستا دی، خو دوستان یې تانه ډېر استعمالوي؟

**ځواب:** ستا نوم.

**سوال:** شیشې نه اخوا وځي، خو ماتېږي نه؟

**ځواب:** رڼا.

**سوال:** هغه کوم حیوان دی، چې پیدایښت څخه مخکې هم خوړل کېږي او وروسته هم؟

**ځواب:** چرګ او د چرګې هګۍ.

Scanned by CamScanner

**سوال:** هغه څه شی دی، چې هره میاشت زېږېږي؟

**ځواب:** سپوږمۍ(میاشت) .

**سوال:** هغه کومه راډیو ده، چې په(۴۸) ژبو نشرات کوي؟

**ځواب:** بي بي سي(BBC) .

**سوال:** هغه کومې نښې دي، چې ټول پرې پوهېږي؟

**ځواب:** ترافیکي نښې.

**سوال:** د کوم پاچا په وخت کې ټیلیفون د لومړي ځل لپاره افغانستان ته راوړل شو؟

**ځواب:** امیر حبیب الله خان.

**سوال:** تگ کوي، پښې نه لري؟

**ځواب:** ساعت.

**سوال:** محمد ظاهر شاه او داود خان خپلو کې څه کېدل؟

**ځواب:** دتره زامن وو.

**سوال:** د کار کولو په وخت کې اوبو ته غورځول کېږي؟

**ځواب:** د ماهیانو جال.

**سوال:** هغه څوک دی، چې ته یې وینې، خو تا نه ویني؟

**ځواب:** ړوند.

**سوال:** هغه کوم کتاب دی، چې په نړۍ کې هر شخص یې اخلي؟

**ځواب:** قاموس(ډکشنري) .

**سوال:** یو من اوسپنه درنه ده، که یو من مالوچ؟

**ځواب:** یو شي ده.

Scanned by CamScanner

**سوال:** هغه څه شی دی، چې د ځمکې پر مخ حرکت نه کوي، مګر د ځمکې لاندې ښه حرکت کوي؟

**ځواب:** ريښه(ريشه) .

**سوال:** هغه کوم ډول منګی دی، چې دوه ډوله اوبه په کې دي؟

**ځواب:** هګی.

**سوال:** کومه مېوه ده، چې پوستکی نه لري؟

**ځواب:** توت.

**سوال:** دکوم حيوان د اورېدو حس ډېر تېز دي؟

**ځواب:** د سپي.

**سوال:** په مرغانو کې د کوم مرغه د سترګو نظر ډېر تېز دی؟

**ځواب:** د باز.

**سوال:** په حيواناتو کې د کوم حيوان د سترګو نظر ډېر تېز دی؟

**ځواب:** د اس.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې غټېږي وړوکی کېږي؟

**ځواب:** د انسان جامې.

**سوال:** سور دی صندق دی، د سرو غميو ډک دی؟

**ځواب:** انار.

**سوال:** د اوسپنې کوټه ده، سرکې شيشه ده، منځ کې نشه ده؟

**ځواب:** د نسوارو کوټی.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې هر شی ورته ضرورت لري؟

**ځواب:** نوم.

Scanned by CamScanner

**سوال:** څې په پنځو ودرېږي په درېيو؟

**ځواب:** لاس ګاډی (کراچې) دوه لاسونه دوه پښې د انسان او یو ټیر کراچۍ دوه پښې یو ټیر ودرېږي.

**سوال:** څلور پښې لري، خو تګ نه کوي؟

**ځواب:** کټ(څوکۍ) .

**سوال:** هغه څه شی دی، چې تش یا ډک وي وزن کې کوم تغیر نه راځي؟

**ځواب:** موبایل.

**سوال:** دېوال کې ځوړندېږي، په مېز ایښودل کېږي، جېب کې ګرځول کېږي، خو یو کال عمر لري؟

**ځواب:** جنتري(کلیزه) .

**سوال:** تیږه وړي غوښه راوړي، داڅه شی دی؟

**ځواب:** لینده (غولکه) .

**سوال:** په پوزه کېني او غوږونه نیسي دا به څه وي؟

**ځواب:** عینکې.

**سوال:** په نړۍ کې هغه کومه ځمکه ده، چې په ټول عمر کې یې یو ځل لمر لیدلی دی؟

**ځواب:** د نیل دریاب.

**سوال:** دا څه شی دی، چې له موره پیدا ږیره یې سپینه؟

**ځواب:** جوار(وړی) .

**سوال:** درې چته کوټه ده، یوه یې ستن ده؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** شفتله (ډکې) .

**سوال:** هغه کومه مېوه ده، چې د افغانستان بیرغ ترې جوړېږي؟

**ځواب:** هندوانه ده، ځکه زړی تور، منځ سور پوستکی شین.

**سوال:** که یو شخص اوره او حلوا وخوري، د هغه جنازه نه کېږي علت یې څه دی؟

**ځواب:** د ژوندي شخص جنازه نه کېږي.

**سوال:** هغه کوم لفظ دی، چې څومره صحیح یې ولیکې بیا هم غلط وي؟

**ځواب:** غلط لفظ.

**سوال:** درې ملګري دي، یو بل نشي ګیرکولی؛ څنګه؟

**ځواب:** د چتي پکي درې پرې.

**سوال:** د افغانستان تر ټولو لوی پُل کوم دی؟

**ځواب:** د بهسودو پُل.

**سوال:** په ټولو مخلوقاتو کې ښایسته څه شی دی؟

**ځواب:** انسان.

**سوال:** شپږ یې پښې، دوه یې پنجې، یوه یې ملا ده، دا څه دي؟

**ځواب:** ترازو(تله) .

**سوال:** په چت کې یوه کلا ده، سر یې دی مخ ښکته، ټول عالم ته برالا ده؟

**ځواب:** د غومبسو ځاله؟

**سوال:** هغه څه شی دی، چې ټوله دنیا لیدلی شي، خو خپل ځان نه

Scanned by CamScanner

شي ليدلی؟

**ځواب:** سترګه.

**سوال:** ښايسته ونه (۱۲) يې ښاخونه (۲) په کې ګلونه؟

**ځواب:** د کال(۱۲) مياشتې او(۲) يې اخترونه.

**سوال:** اوسپنه؛ خواره يې په ځنګل کې، د ځنګل نه وروسته ګذارېږي؟

**ځواب:** پاکي.

**سوال:** مخکې ځي، شاته نه ګوري؟

**ځواب:** اوبه.

**سوال:** راډيو ته په کره پښتو کې څه وايي؟

**ځواب:** غږ دبلی.

**سوال:** بايسکل ته په کره پښتو کې څه وايي؟

**ځواب:** جولا ګاډی.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې پيل او پای نه لري؟

**ځواب:** دايره.

**سوال:** ليکل کوي، خبرې نه کوي؟

**ځواب:** قلم.

**سوال:** د احمد شاه بابا څو زامن وو؟

**ځواب:** اته(۸) .

**سوال:** يوه ښځه ده ستا د ترور خور ده، خو ستا ترور نه ده؟

**ځواب:** مور.

**سوال:** د افغانستان لومړنی صدر اعظم څه نومېده؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** سید نور محمد شاه.

**سوال:** د حزب اسلامي مشر څه نومېږي؟

**ځواب:** انجینر ګلبدین حکمتیار.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې پرچه پرچه کوو بیا هم ژاړي؟

**ځواب:** پیاز.

**سوال:** د اسمان نه راورېږي نه ماتېږي، اوبو ته ولېږي ماتېږي؟

**ځواب:** کاغذ.

**سوال:** لس پښې، درې سرونه دوه لاسونه، دوه لکۍ دا به څه وي؟

**ځواب:** قولبه او بزګر.

**سوال:** په توره نه ماتېږي په پاپړ ماتېږي؟

**ځواب:** روژه.

**سوال:** په اوبو کې نخه شته، څه شی دی؟

**ځواب:** وچه تیږه.

**سوال:** په ژبه کې نشته، څه شی دی؟

**ځواب:** هډوکی.

**سوال:** دوه ملګري دي، چې هرڅومره وګرځي یو بل ته نه رسېږي؟

**ځواب:** د لمر سترګه او سپوږمۍ.

**سوال:** په نړۍ کې لمر تر ټولو لومړی په کوم هېواد کې راخېژي؟

**ځواب:** جاپان کې.

**سوال:** هغه کومه دروازه ده، چې نه خلاصېږي؟

**ځواب:** خلاصه دروازه.

Scanned by CamScanner

**سوال:** هغه کوم څاڅکی دی، چې نه له اسمانه او نه له ځمکې دی؟

**ځواب:** اوښکې.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې انسان ګوري، خو الله (ج) نه ګوري؟

**ځواب:** خوب لیدل.

**سوال:** مار څو غوږونه لري؟

**ځواب:** مارغوږونه نه لري.

**سوال:** هغه کوم نبات دی، چې جلد یې تور او منځ یې سپین؟

**ځواب:** بانجان.

**سوال:** د اشراف او تواب ترمنځ څه دي؟

**ځواب:** (او) توري

**سوال:** بند په بند هر خوند لري، دا څه دي؟

**ځواب:** ګنې.

**سوال:** کفن یې شین، غاښونه یې منځ کې، ږیره یې سر کې، دا څه شی دی؟

**ځواب:** جوار.

**سوال:** هغه کوم ځای دی، چې د اوبو له منځ څخه اور راوځي؟

**ځواب:** سماوار(سماوات) .

**سوال:** هغه کوم ځای دی، چې د خاورې څخه اور راوځي؟

**ځواب:** اتشفشان غرونه.

**سوال:** هغه کوم اواز دی، چې الله (ج) پیدا کړی او بیا هم ورته بد ویلي؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** دخره اواز.

**سوال:** د تيږې کلک د ګل نازک داځه دي؟

**ځواب:** انسان.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې له ځانه غټ بار وړي؟

**ځواب:** مېږی.

**سوال:** د انسان هډوکي څو دي؟

**ځواب:** (۲٦۰) .

**سوال:** هغه څوک و، چې بې له اوره يې اوبه په جوش راوستې؟

**ځواب:** رمفورډ.

**سوال:** د انسان د بدن نارمل حرارت درجه څو ده؟

**ځواب:** (۳۷) سانتي ګريډ.

**سوال:** خړ يې تابوت سور يې کفن او مړی يې سپين دی؟

**ځواب:** ممپلي.

**سوال:** د ختيځ نابغه چاته وايي؟

**ځواب:** سيد جمال الدين افغان ته.

**سوال:** هغه کوم توری دی، چې د فريد او بشير نوم کې شته؟

**ځواب:** (ی) .

**سوال:** د ځمکې پرمخ لومړی خزنده څه نومېده؟

**ځواب:** ډايناسور.

**سوال:** هغه کوم لومړنی افغان و، چې هوا ته يې سفر وکړ؟

**ځواب:** عبدالاحمد مومند.

Scanned by CamScanner

**سوال:** په ونو کې لومړۍ کومه ونه شنه شوه؟

**ځواب:** د کجورې(خُرما) .

**سوال:** هغه څه شی دی، چې خېټه لري، خو کولمې نه لري؟

**ځواب:** منګی.

**سوال:** هغه کومه کلیمه ده، چې په درېیو ژبو کې څلور حرفه ولري او په ټولو ژبو کې یوه معنی ورکوي؟

**ځواب:** هغه مینه ده [پښتو، مینه][اردو، پیار][عربي، محبت].

**سوال:** په دوشنبه کې د جمعې لمونځ کېږي او کنه؟

**ځواب:** هو؛ دوشنبه د تاجکستان پایتخت دی او هغه هم یو اسلامي هېواد دی.

**سوال:** د انسان وېښتان په کوم موسم کې زیات غټېږي؟

**ځواب:** په اوړي کې.

**سوال:** د انسان هډوکي په څو ډوله دي؟

**ځواب:** په څلور ډوله دی.

**سوال:** تشه ځي، ډکه راځي، دا څه شی دی؟

**ځواب:** د اوبو بوکه.

**سوال:** لمده یې ننباسي او وچه یې راباسي، څه شی دی؟

**ځواب:** د تنور ډوډۍ.

**سوال:** د انسان په بدن کې هغه کوم هډوکی دی، چې غوښه نه لري؟

**ځواب:** غاښ.

**سوال:** د انسان په سینه کې څو پښتۍ دي؟

**ځواب:** (۲۴).

**سوال:** د انسان په بدن کې تر ټولو زياتې اوبه په کوم اندام کې دي؟

**ځواب:** سترګه کې.

**سوال:** د جمال د کلمې په اخر کې کوم توری دی؟

**ځواب:** (ل).

**سوال:** د جاويد نوم له څو تورو څخه جوړ شوی؟

**ځواب:** پنځه (۵).

**سوال:** هغه څه شی دی، چې خبرې نه کوي کله، چې خواړه خوري رښتيا وايي، چې وږی شي دروغ وايي؟

**ځواب:** ساعت.

**سوال:** هغه څه شی دی، پښې لاسونه نه لري ټوپونه وهي؟

**ځواب:** بال.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې ډېر شي کم شي؟

**ځواب:** عمر.

**سوال:** هغه څوک دی، چې ورته غږېږې ځواب نه درکوي؟

**ځواب:** کوڼ.

**سوال:** د سولې بيرغ کوم رنګ لري؟

**ځواب:** سپين.

**سوال:** هغه کوم حيوان دی، چې هډوکي يې لپاسه غوښه يې دننه؟

**ځواب:** کېشپ.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې کافر او مسلمان ته په يوه سترګه ګوري؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** یو سترګی شخص.

**سوال:** زما او ستا په منځ کې کومه کلیمه ده؟

**ځواب:** (او) کلیمه ده.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې یوه سترګه لري، خو تل خلاصه وي؟

**ځواب:** ستن.

**سوال:** هغه د الفبا کوم توری دی، چې سرچپه یې کړې د (مال) معنی ورکوي؟

**ځواب:** (لام) توری دی.

**سوال:** دوه مېنې دي په دوو یې ګوري، په لسو یې رانیسي او په (۳۲) یې خوري؟

**ځواب:** انسان دی، ځکه دوه سترګې، لس ګوتې او (۳۲) غاښونه.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې حق او ثابت دی، خو خلک یې بد ګڼي؟

**ځواب:** مرګ.

**سوال:** د اختر لمونځ لپاره اقامت فرض، واجب او که سنت دی؟

**ځواب:** اختر لمونځ لپاره اقامت نشته.

**سوال:** هغه کوم ملکونه دي، چې د هغوی نومونه په لمانځه کې واخېستل شي، نو لمونځ ورسره نه ماتېږي؟

**ځواب:** بحرین، مصر، روم او اسراییل.

**سوال:** یو سړي قسم وکړ، چې نن ماسپښین څلور رکعته فرض لمونځ زه دوه رکعاته او د مازیګر فرض لمونځ هم دوه رکعته کوم دا به څه کوي؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** دا به په سفر وخې او د سفر اندازه به پوره کوي، دا لمونځونه به دوه دوه رکعاته کوي.

**سوال:** پنځه متره لرګی دی، هره ورځ یو متر لرګی باید غوڅ شي، دغه لرګی به په څو ورځو کې باید غوڅ شي؟

**ځواب:** دغه لرګی په څلورو ورځو کې باید غوڅ شي.

**سوال:** یو لېوه، یوه مېږه، یو پنډ شفتله ده، دا غواړي چې کښتۍ کې د سیند اخوا غاړې ته واړوي، که لېوه لومړی اړوي، مېږه واښه خوري، که واښه اړوي، لېوه مېږه خوري، نو څه به کوي؟

**ځواب:** اول به کښتۍ کې مېږه پورې باسي، بیا به راشي لیوه به پورې باسي، مېږه به بېرته کشتۍ کې راوړي، مېږه به پرېږدي واښه به واړوي، بیا به راشي مېږه به پورې باسي.

**سوال:** څلورځله(۳۰) په (+ ـ ×٪) په دغو عملیو کې جوړ کړه، چې عدد د دوهم ځل لپاره تکراري نه وي؟

**ځواب:** [ ۳۰ = ۳ × ۱۰ ]

[ ۱۵ + ۱۵ = ۳۰ ]

[ ۶۰ ـ ۳۰ = ۳۰ ]

[ ۹۰۰٪۳۰ = ۳۰ ]

**سوال:** د یو هلک عمر څلور کاله دی، خو د خور عمر یې د ورور د عمر نیمایي دی، سل کاله وروسته یې د خور عمر څو کاله کېږي؟

**ځواب:** د خور عمر یې (۱۰۲) کاله دی.

**سوال:** دوه کسان په کوټه کې ناست دي، یو کس له بهر څخه راغی،

له يوه يې وپوښتل، چې دا دې څه کېږي هغه ورته وويل، چې دا زما د پلار زوی دی، خو زما هيڅ نه کېږي؟

**ځواب:** ددغه هلک خپل تصوير دی.

**سوال:** صفت الله (۱۰) لس کلن دی، ورور يې (۲) دوه کلن دی، ورور به يې پنځه (۵) کاله وروسته څو کلن وي؟

**ځواب:** ورور به يې پنځه کاله وروسته (۷) اووه کلن وي؟

**سوال:** په يو ګاډي کې څو کسان ناست دي، ترافيک ګاډی ودراوه او له ډرېور څخه يې وپوښتل، چې دا دې څه کېږي، ډرېور وويل دا مې ورور نه دی، خو زه يې ورور يم دا يې څه کېږي؟

**ځواب:** دا يې خورده.

**سوال:** يوه ونه ده دولس يې ښاخونه دي، په هر ښاخ کې دېرش پاڼې دي، په هره پاڼه کې يې پنځه ګلان دي، دوه ګلان يې لمر ته او درې سيوري ته، دا څه شی دی؟

**ځواب:** دا کال دی، چې دولس مياشتې لري، هره مياشت دېرش ورځې ده، هره ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض ده، دوه لمونځونه يې (ماسپښين او مازيګر) لمر ته درې لمونځونه يې (سهار ماښام او مازيګر) سيوری ته دی.

**سوال:** په ونه کې لس مرغۍ دي، ښکاري راغی ډز يې پرې وکړ، پنځه يې ترې وويشتې، نو په ونه کې ټولې څو مرغۍ پاتې شوې؟

**ځواب:** يوه هم نه ده پاتې، ټولې الوځي.

**سوال:** مجرم جرم وکړ، پاچا ورته وويل، درې کوټې دي، په يوه کې اور،

په بله کې اوبه او په بله کې يو کلن وړی زمری دی. څه به کوي؟

**ځواب:** د زمري کوټې ته دې لاړ شي، يو کلن وړی زمری خونه وي.

**سوال:** په يو کور کې دوه پلرونه، دوه زامن او درې پيالې دي، پيالې داسې ووېشئ، چې هر يوه ته يوه پياله ورسېږي؟

**ځواب:** په اصل کې کسان هم درې دي، يو نيکه دويم يې زوی درېيم يې لمسی دی.

**سوال:** درې ګنې دي، هر يو اوږدوالی دوه متره دی، درې غواړو ته يې په داسې طريقې سره يې واچوئ، چې د دوه ګنو سرونه په يو ځل په خوله کې ونيسي؟

**ځواب:** دا درې ګنې به د مثلث په شکل کېږدو او هر کونج ته به يې يو غويی ودرول شي.

**سوال:** د جمال مور درې زامن لري، د يو نوم رياض، د بل نوم شعيب او د بل نوم به څه وي؟

**ځواب:** د بل نوم به جمال وي.

**سوال:** جميل سره (۱۰۰) روپۍ دي او جواد سره (٦٠) روپۍ دي، جواد ته څو روپۍ ورکړي، چې د جميل سره يې روپۍ برابرې شي؟

**ځواب:** جواد ته به (۴۰) روپۍ ورکړو، چې (۱۰۰) پوره شي.

**سوال:** څو چوکۍ دي او يو څه خلک دي، که په هره چوکۍ کې يو کس کېني نو دوه کسان اضافه کېږي او کچېرې په هره چوکۍ کې يو - يو کس کېني، نو دوه چوکۍ کمېږي، معلوم کړئ څو چوکۍ او څو کسان دي؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** (۳) درې چوکۍ او (۵) پنځه کسان دي.

**سوال:** کوټه کې پنځه کسان دي، کوټه څلور کونجه لري، د کوټې په هر کونج کې یو کس ناست دي، پنځم کس وایي په کوټه کې دوه کسان ماته مخامخ او دوه کسان زما شاته دي، دا کس به دکوټې په کوم ځای کې وي؟

**ځواب:** دا کس به د کوټې په منځ کې وي.

**سوال:** دوه وري دي، د یو مخ شمال ته، د بل مخ جنوب ته، دوی ته په داسې طریقې سره وابښه واچوئ، چې په یوځای یې وخوري؟

**ځواب:** دا دواړه وري یو بل ته مخامخ دي، د یو مخ شمال ته او د بل مخ جنوب ته دی او په منځ کې وابښه واچوئ.

**سوال:** کوټه کې څلور کسان دی د کوټې په هر کونج کې یو - یو کس ناست دی، هر کس یو بل ته مخامخ دی، نو کوټه کې به ټول څو کسان وي؟

**ځواب:** کوټه کې ټول څلور کسان دي.

**سوال:** په یوه تیاره کوټه کې د دوه ښځو بچي وشو، یو هلک او یوه جنۍ ده، نو دغه دواړه ښځې د هلک دعوه کوي، نو څه به کوو، چې حق حقدار ته وسپارل شي؟

**ځواب:** د دغو دواړو ښځو شیدې په یو معین لوخي کې دې تول شي، چې د هرې ښځې درنې وي، نو هلک د همغه ښځې دی.

**سوال:** یوه ښځه او سړی پر لاره روان وو، چا ترې پوښتنه وکړه، چې دا ښځه دې څه کېږي، هغه ورته وویل دا ښځه زما د زوی د مور ده،

Scanned by CamScanner

دا یې څه کېږي؟

**ځواب:** دا ښځه یې اینګور ده.

**سوال:** یو کس په سهار کې د جنابت غسل وکړ او پنځه وخته لمونځ یې په همدغه طهارت سره وکړل او د سهار لمونځ یې فاسد او نور لمونځونه یې صحیح شو دا څنګه کېدای شي؟

**ځواب:** د نوموړي سړي په غسل کې غړغړه هېره شوې وه، وروسته د لمر ختلو سره یې اوبه وڅښلې، نو ځکه د سهار لمونځ یې فاسد شو.

**سوال:** د مور زوی د مور د پلار د نیکه څه کېږي.

**ځواب:** کړوسی دی.

# دیني برخه

**سوال:** مسلمانان به د قیامت په ورځ د کومو نښو څخه معلومېږي؟

**ځواب:** د اوداسه له نښو نه هغه اندامونه، چې په اوداسه کې مینځل کېږي؟

**سوال:** نجاست په څو ډوله دی؟

**ځواب:** نجاست په دوه ډوله دی: (حقیقي) او(حُکمي) .

**سوال:** هغه کوم ښکلی مقدس کتاب دی، چې په نړۍ کې ډېر چاپېږي او زیات لوستل کېږي؟

**ځواب:** قرآن کریم.

**سوال:** په اسلام کې لومړی ځل صندان چا جوړ کړ؟

**ځواب:** عمر رضی الله عنه.

**سوال:** د قرآن کریم لومړی حافظ څوک دی؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم.

**سوال:** د قرآن کریم لومړنی سورت څه نومېږي؟

**ځواب:** سورة فاتحه.

**سوال:** هغه کوم لمونځ دی، چې رکوع نه لري؟

**ځواب:** د جنازی لمونځ.

**سوال:** یو میل څو متره کېږي؟

**ځواب:** (۱٦۰۹) متره کېږي.

**سوال:** د اسلام بناوې څو دي؟

**ځواب:** (۵) بناوې دي؛ کلمه، لمونځ، روژه، زکات، حج.

**سوال:** د قرآن کریم وروستنی سورت څه نومېږي؟

**ځواب:** (الناس) .

**سوال:** په نړۍ کې لومړی کوم مسجد جوړشوی؟

**ځواب:** مسجد الحرام، په بیت الله کې دی.

**سوال:** د مسلمانانو مور څه نومېده؟

**ځواب:** حضرت عایشه(ض) .

**سوال:** الله تعالی لومړۍ کومه ورځ پیدا کړه؟

**ځواب:** د شنبې ورځ.

**سوال:** هغه کوم لمونځ دی، چې عمومي ګناهونه پرې معاف کېږي؟

**ځواب:** تهجد لمونځ.

**سوال:** هغه کوم کسان دي، چې لمونځ یې نه قبلېږي؟

**ځواب:** (۱) هغه ښځه، چې مېړه ترې خپه وي.

Scanned by CamScanner

(۲) هغه دوه کسان، چې یو بل نه مرور وي.

(۳) هغه ملا، چې جمع ورکوي، خلک پرې ناخوښه وي.

**سوال:** د قیامت لویه علامه څه ده؟

**ځواب:** د غرب له خوا لمر راختل.

**سوال:** یو مسلمان پر بل مسلمان څو حقونه لري؟

**ځواب:** شپږ (٦) حقونه لري.

**سوال:** تیمم څو فرضونه لري؟

**ځواب:** درې (۳) فرضونه.

**سوال:** غسل څو فرضونه لري؟

**ځواب:** درې (۳) فرضونه لري.

**سوال:** اودس کې څو فرضونه لري؟

**ځواب:** څلور (۴) فرضونه لري.

**سوال:** انسان په څو ډوله پیدا شوی؟

**ځواب:** په څلور ډوله پیدا شوی:

**۱: له خاورې نه ادم علیه السلام**

**۲: له سړي څخه بي بي حوا د آدم علیه السلام له پښتۍ څخه**

**۳: یوازې له ښځې څخه عیسی علیه السلام**

**۴: نور ټول انسانان له سړي او ښځې څخه**

**سوال:** د جُمعې د ورځې د لمانځه خطبه اورېدل او چُپ کېناستل څه دي؟ مستحب، سنت، که فرض ده؟

**ځواب:** واجب ده.

Scanned by CamScanner

**سوال:** هغه څه شی دی، چې یو دی دوه کېږي نه؟

**ځواب:** الله (ج).

**سوال:** هغه څه شی دی، چې دوه دی درې کېږي نه؟

**ځواب:** شپه او ورځ.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې درې دي، څلور کېږي نه؟

**ځواب:** لوح، قلم، کرسي.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې څلور دی پنځه کېږي نه؟

**ځواب:** تورات، انجیل، زبور او قرآن کریم.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې پنځه دي شپږکېږي نه؟

**ځواب:** کلمه، لمونځ، روژه، زکات، حج.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې شپږ دی اووه کېږي نه؟

**ځواب:** اووه (٧) اسمانونه او اووه (٧) ځمکې الله(ج) په شپږو ورځو کې پیدا کړي.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې اووه دي اته کېږي نه؟

**ځواب:** د اوونۍ (٧) ورځې.

**سوال:** هغه کوم اته دي، چې نهه کېږي نه؟

**ځواب:** د قیامت په ورځ به عرش (٨) ملایکو پورته کړی وي.

**سوال:** هغه کوم نهه (٩) دي، چې لس کېږي نه؟

**ځواب:** په مدینه کې (٩) قبیلو فساد کاوه.

**سوال:** هغه کوم لس دي، چې یوولس کېږي نه؟

**ځواب:** بېوسه حاجي، چې د قربانۍ وسه نه لري، نو (١٠) روژې به

ونیسي (۳) په مکه مکرمه کې او (۷) په کور کې.

**سوال:** هغه کوم یوولس دي، چې دولس کېږي نه؟

**ځواب:** د یوسف علیه السلام ورونه؛ ځکه هغه (۱۱) وو.

**سوال:** هغه کوم دولس دي، چې دیارلس کېږي نه؟

**ځواب:** د کال دولس (۱۲) میاشتې.

**سوال:** آدم علیه السلام په کومه ورځ پیدا شوی؟

**ځواب:** د جمعې په ورځ.

**سوال:** آدم علیه السلام جنت ته په کومه ورځ داخل شوی دی؟

**ځواب:** د جمعې په ورځ.

**سوال:** آدم علیه السلام په کومه ورځ ځمکې ته رالېږل شوی دی؟

**ځواب:** د جمعې په ورځ.

**سوال:** آدم علیه السلام په کومه ورځ وفات شوی دی؟

**ځواب:** دجُمعې په ورځ.

**سوال:** هغه کوم سپېڅلی مقدس کتاب دی، چې پیل یې په (الف) او پای په (س) ده؟

**ځواب:** قرآن کریم.

**سوال:** لمر په کومه ورځ راختلی دی؟

**ځواب:** د جُمعې په ورځ.

**سوال:** هغه کومه ورځ ده، چې الله تعالی ته د لوی او کوچني اختر څخه بهتره ده؟

**ځواب:** د جمعې ورځ.

Scanned by CamScanner

**سوال:** د قیامت ورځ به په کومه ورځ واقع کېږي؟

**ځواب:** د جمعې په ورځ.

**سوال:** هغه کومه ورځ ده، چې یو ساعت په کې شته، دُعا په کې قبلېږي؟

**ځواب:** د جمعې ورځ.

**سوال:** هغه کوم سورت دی، چې دجمعې په ورځ یې لوستل یې ډېر اجر او ثواب لري؟

**ځواب:** د کهف سورت.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې اول نبات و، مګر وروسته حیوان شو؟

**ځواب:** هغه دحضرت موسی علیه السلام امسا وه.

**سوال:** هغه څوک دی، چې د ږیرې ویستل ورته مستحب دي؟

**ځواب:** ښځه ده، ځکه چې د ښځې ږیره راشي ویستل یې مستحب دي.

**سوال:** د انسان(مسلمان) په تن لومړی ګوهر څه شی دی؟

**ځواب:** ایمان.

**سوال:** هغه کوم قبر دی، چې انسان یې په خپله خېټه کې ګرځولی دي؟

**ځواب:** هغه ماهي دی، چې حضرت یونس علیه السلام د هغې په خېټه کې و او ماهي په دریاب کې ګرځېده.

**سوال:** هغه څه شی دی، چې سړی د ښځې سره وګوري، نو ښځه پرې طلاقېږي؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** دا کفر دی، کله چې ښځه کافره شوه، نو طلاق واقع شو.

**سوال:** هغه کوم غسل دی، چې صرف یو فرض لري؟

**ځواب:** د مړي غسل، د مړي لمبول په کې فرض دي.

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې پېریان یې تابع و؟

**ځواب:** سلیمان علیه السلام .

**سوال:** په نړۍ کې کوم کار ته خلک ډېر بلل کېږي؟

**ځواب:** لمونځ ته(حيَّ عَلىَ الصَّلَوة) .

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې د مرغانو په ژبه پوهېده؟

**ځواب:** سلیمان علیه السلام .

**سوال:** هغه کوم فعل و قول دی، چې شروع یې په الله اکبر او پای یې په سلام دی؟

**ځواب:** لمونځ دی.

**سوال:** هغه کوم جومات دی، چې مهراب نه لري؟

**ځواب:** کعبه شریفه، مهراب نه لري، په سعودي کې دی.

**سوال:** هغه کومې اوبه دي، چې نه له اسمانه څخه دي، نه له ځمکې څخه راوتلې دي، خو د زم زم اوبو څخه غوره والی لري، اودس پرې هم روا دی؟

**ځواب:** دا هغه اوبه دي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارکو ګوتو څخه د معجزې په توګه راوتې وې.

**سوال:** هغه کوم کار دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټول عمر کې نه دی کړی، مګر د یو امتي لپاره د هغې پرېښودل کبیره

Scanned by CamScanner

ګناه ده؟

**ځواب:** د پلار خدمت.

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې اواز یې تر ټولو خوږ و؟

**ځواب:** داود علیه السلام .

**سوال:** هغه کوم کس دی، چې انسان دی خو بني آدم نه دی؟

**ځواب:** حضرت آدم علیه السلام .

**سوال:** هغه کوم ډول خواړه دي، چې آدم علیه السلام په ټول عمرکې نه دي خوړلي؟

**ځواب:** د مور شیدې.

**سوال:** په حُسن کې کوم پیغمبران تر ټولو مشهور دي؟

**ځواب:** یوسف علیه السلام او محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم .

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې لومړی یې مېلمنو ته مېلمستیا ورکړه؟

**ځواب:** ابراهیم علیه السلام .

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې لومړی یې د ستورو او ریاضیاتو پوهه ترلاسه کړه؟

**ځواب:** ادریس علیه السلام .

**سوال:** خیاطي دکوم پیغمبر کسب و؟

**ځواب:** ادریس علیه السلام .

**سوال:** په لاسونو کې د اوسپنې ویلې کېدل د کوم پیغمبر معجزه وه؟

**ځواب:** د داود علیه السلام .

**سوال:** مړي ژوندي کول د کوم پیغمبر معجزه وه؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** د عيسى عليه السلام .

**سوال:** سپوږمۍ دوه ځايه کېدل د کوم پيغمبر معجزه ده؟

**ځواب:** د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم .

**سوال:** تر ټولو لومړى پيغمبر څه نومېده؟

**ځواب:** آدم عليه السلام .

**سوال:** تر ټولو وروستى پيغمبر څه نومېږي؟

**ځواب:** محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم .

**سوال:** په شپه او ورځ کې څو رکعته لمونځ اداء کېږي؟

**ځواب:** دوه دېرش (۳۲) رکعته.

**سوال:** ابراهيم عليه السلام د چا زوى و؟

**ځواب:** د آزر.

**سوال:** په اخرت کې به اول حساب و کتاب له کوم امت سره کېږي؟

**ځواب:** د محمد صلى الله عليه وسلم له امت سره.

**سوال:** د رسول الله صلى الله عليه وسلم څو زامن و؟

**ځواب:** درې (۳) قاسم، ابراهيم او عبدالله.

**سوال:** په اسلام کې لومړى شهيد څوک و؟

**ځواب:** ياسر بن عماررضى الله عنه وو.

**سوال:** په اسلام کې لومړۍ شهيده ښځه څوک وه؟

**ځواب:** سميه رضى الله عنه وه.

**سوال:** د رسول الله صلى الله عليه وسلم لومړى يار څه نومېږي؟

**ځواب:** ابوبکر صديق رضى الله عنه .

Scanned by CamScanner

**سوال:** عمر فاروق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څه کېده؟

**ځواب:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم خُسر وه.

**سوال:** فاطمة الزهرا(ض) د چا لور ده؟

**ځواب:** د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم .

**سوال:** لومړی رسول څوک و؟

**ځواب:** نوح علیه السلام .

**سوال:** لومړی نبي څوک و؟

**ځواب:** آدم علیه السلام .

**سوال:** الله(ج) ته په ټولو نومونو کې ډېر خوښ نومونه کوم دي؟

**ځواب:** عبدالله او عبدالرحمن.

**سوال:** حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه د چا لمسیان وو؟

**ځواب:** د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم .

**سوال:** د قرآن کریم تر ټولو لوی سورت کوم دی؟

**ځواب:** سورت بقره.

**سوال:** د قرآن کریم تر ټولو کوچنی سورت کوم دی؟

**ځواب:** سورت کوثر.

**سوال:** د جنت کیلي څه شی دی؟

**ځواب:** کلمه طیبه.

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې بې موره او بې پلاره و؟

Scanned by CamScanner

**سوال:** عمر فاروق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څه کېده؟

**ځواب:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم خُسر وه.

**سوال:** فاطمة الزهرا(ض) د چا لور ده؟

**ځواب:** د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم .

**سوال:** لومړی رسول څوک و؟

**ځواب:** نوح علیه السلام .

**سوال:** لومړی نبي څوک و؟

**ځواب:** آدم علیه السلام .

**سوال:** الله(ج) ته په ټولو نومونو کې ډېر خوښ نومونه کوم دي؟

**ځواب:** عبدالله او عبدالرحمن.

**سوال:** حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه د چا لمسیان وو؟

**ځواب:** د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم .

**سوال:** د قرآن کریم تر ټولو لوی سورت کوم دی؟

**ځواب:** سورت بقره.

**سوال:** د قرآن کریم تر ټولو کوچنی سورت کوم دی؟

**ځواب:** سورت کوثر.

**سوال:** د جنت کیلي څه شی دی؟

**ځواب:** کلمه طیبه.

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې بې موره او بې پلاره و؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** آدم علیه السلام .

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې بې پلاره و؟

**ځواب:** عیسی علیه السلام .

**سوال:** د څلورو سترو امامانو نومونه واخلي؟

**ځواب:** امام ابوحنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمه الله.

**سوال:** د امام ابوحنیفه رحمه الله خپل نوم څه و؟

**ځواب:** نعمان.

**سوال:** د امام ابوحنیفه رحمه الله لقب څه و؟

**ځواب:** اعظم.

**سوال:** دا وینا د چا ده کله، چې یو حد یث صحیح شي دا زما مذهب دی؟

**ځواب:** د امام ابوحنیفه رحمه الله.

**سوال:** امام ابوحنیفه په کوم هېواد کې وفات شوی؟

**ځواب:** د عراق په بغداد کې.

**سوال:** هغه کوم شی دی، چې په دنیا کې موجود خو د جنت څخه راوتلی دی؟

**ځواب:** د حجر الاسود تېږه.

**سوال:** هغه کوم کس دی، چې د هغه د خولې اوبه ناپاکه دي؟

**ځواب:** د مړي.

**سوال:** د قرآن کریم هغه کوم سورت دی، چې ټوله دُعا ده؟

Scanned by CamScanner

**ځواب:** سورت فاتحه.

**سوال:** هغه کوم لمونځ دی، چې په خپل وخت اداء کول یې ګناه دی؟

**ځواب:** د حاجیانو لپاره په مزدلفه کې د ماښام لمونځ ده، چې د ماخستن لمونځ سره ګډ کېږي.

**سوال:** هغه کوم لمونځ دی، چې سجده کول یې مکروه دي؟

**ځواب:** د جنازې لمونځ.

**سوال:** هغه کوم لمونځ دی، چې بې له اذانه کېږي؟

**ځواب:** د جنازې لمونځ.

**سوال:** هغه کوم اذان دی، چې بې له لمونځ نه کېږي؟

**ځواب:** د نوي ماشوم په غوږ کې.

**سوال:** افغانستان ته اسلام د چا په وخت کې راغی؟

**ځواب:** د عثمان رضی الله عنه په وخت کې.

**سوال:** هغه کوم لمونځ دی، چې په هغې کې عاقل، بالغ او هوښیار کس په زوره وخاندي اودس یې نه ماتېږي؟

**ځواب:** د جنازې لمونځ.

**سوال:** هغه کوم کس دی، چې هغه ته په موزو مسحه کول روا نه ده؟

**ځواب:** جُنب کس.

**سوال:** په سړیو کې لومړی ایمان پر رسول الله صلی الله علیه وسلم چا راوړ؟

**ځواب:** حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه .

**سوال:** په ښځو کې لومړی ایمان پر رسول الله صلی الله علیه وسلم چا

Scanned by CamScanner

راوړ؟

**ځواب:** خدیجه رضی الله عنه .

**سوال:** په هلکانو کې لومړی ایمان پر رسول الله صلی الله علیه وسلم چا راوړ؟

**ځواب:** علي رضی الله عنه .

**سوال:** هغه کوم پنځه شیان دي، چې پر ځمکه گرځېدلي، خو چا زېږولي نه دي؟

**ځواب:** (١) .آدم علیه السلام ، (٢) .بي بي حوا ، (٣) .د صالح علیه السلام اوښه (۴) .موسی علیه السلام امسا (۵) .د اسماعیل علیه السلام پسه.

**سوال:** لومړی چا په عربي ژبه خبرې وکړې؟

**ځواب:** اسماعیل علیه السلام .

**سوال:** هغه کوم پیغمبر و، چې درې ورځې یږ له خبرو پرته روژه ونیوله؟

**ځواب:** ذکریا علیه السلام .

**سوال:** په خوړو یې گناهگار او په نه خوړلو یې ثواب؟

**ځواب:** روژه.

**سوال:** هغه کوم رسول(استازی) دی، چې انسان او پېری نه و؟

**ځواب:** ملاچرگک د سلیمان علیه السلام استازی و.

**سوال:** په قرآن کریم کې نشته؟

**ځواب:** دروغ.

Scanned by CamScanner

**سوال:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نیکه څه نوم و؟

**ځواب:** عبدالمطلب.

**سوال:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پلار څه نوم و؟

**ځواب:** عبدالله.

**سوال:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو ترونه وو؟

**ځواب:** نهه (۹) .

**سوال:** کوم پیغمبر په صبر کولو کې مشهور و؟

**ځواب:** یعقوب علیه السلام .

**سوال:** امام ابوحنیفه رحمه الله چېرته وزېږېد؟

**ځواب:** په کوفه کې.

**سوال:** امام ابوحنیفه رحمه الله په کوم کال وزېږېد؟

**ځواب:** په اتیاوم (۸۰) کال د هجرت.

**سوال:** امام ابوحنیفه رحمه الله په کوم کال وفات شوی؟

**ځواب:** یو سل او پنځوسم(۱۵۰) هجري کال.

**سوال:** د امام ابوحنیفه رحمه الله د پلار نوم څه و؟

**ځواب:** ثابت.

**سوال:** د امام ابوحنیفه رحمه الله د نیکه نوم څه و؟

**ځواب:** زوطي.

**سوال:** هغه کوم لمونځ دی، چې په فاسدکېدو سره یې قضا نه لازمېږي؟

**ځواب:** د اختر لمونځ.

Scanned by CamScanner

**سوال:** خوراک ښبناک کوي، خو غټ او وړوکی اودس ماتی نه کـوي، دا څنکه کېدای شي؟

**ځواب:** جنتیان.

**سوال:** په نړۍ کې تر ټولو لوی(غټ) ساعت په کوم ځای کې دی؟

**ځواب:** په مکه مکرمه کې.

**سوال:** لومړی انسان څوک و، چې سنت (ختنه) شو؟

**ځواب:** ابراهیم علیه السلام ، چې خپل ځان یې سنت (ختنه) کړ.

**سوال:** تر ټولو څخه وروستی صحابي کوم یو، چې وفات شو؟

**ځواب:** حضرت ابوالطفیل رضی الله عنه و.

**سوال:** تر ټولو لومړۍ کښتۍ چا جوړه کړه؟

**ځواب:** نوح علیه السلام .

**سوال:** لومړی قاتل څوک و؟

**ځواب:** قابیل.

**سوال:** لومړی جنتی څوک و؟

**ځواب:** حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وو.

**سوال:** لومړی روژه نیوونکی څوک و؟

**ځواب:** آدم علیه السلام .

**سوال:** د جنتیانو لومړی خوراک به څه وي؟

**ځواب:** د ماهي ځیګر.

**سوال:** د جراحی لومړنی عملیات د چا وشو او چا وکړ؟

**ځواب:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم وشو، او ملایکو عملیات کړ.

Scanned by CamScanner

**سوال:** په ورځ د محشر به څو زره قومه موجود وي؟

**ځواب:** (۱۸۰۰۰) اتلس زره قومه به موجود وي.

**سوال:** د سفر درې ورځې او شپې څو میله کېږي؟

**ځواب:** اته څلوېښت (۴۸) میله کېږي.

**سوال:** اسماني کتابونه په چا- چا نازل شوي؟

**ځواب:** (۱) .قرآن کریم پر محمد صلی الله علیه وسلم ، (۲) .تورات پر موسی علیه السلام ، (۳) .زبور پر داود علیه السلام ، (۴) .انجیل پر عیسی علیه السلام نازل شوی.

**سوال:** زغرې کوم پیغمبر جوړولې؟

**ځواب:** داود علیه السلام .

**سوال:** د یعقوب علیه السلام کوم زوی پیغمبر و؟

**ځواب:** یوسف علیه السلام .

**سوال:** د اسماعیل علیه السلام مور څه نومېده؟

**ځواب:** بي بي آمنه.

**سوال:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم کومو ترونو ایمان راوړی و؟

**ځواب:** عباس اوحمزه رضي الله عنهما.

**سوال:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړنۍ بي بي څه نومېده؟

**ځواب:** خدیجه رضي الله عنها.

**سوال:** هغه کوم صحابي و، چې په کعبه شریفه کې په لوړ غږ کلمه وویله؟

**ځواب:** ابوذر غفاري و.

Scanned by CamScanner

**سوال:** معجزه څه ته وايي؟

**ځواب:** معجزه هغه عمل دی چې الله تعالی د خپلو پیغمبرانو څخه د عادت خلاف داسې کار خلکو ته وښايي چې نور خلک يې د کولو څخه عاجز وي.

**سوال:** روژه(صوم ، صيام) څه ته وايي؟

**ځواب:** د صبح صادق څخه تر لمر ډوبيدو پورې د نيت سره خوراک، څښاک او نفسي خواهشات پرېښودلو ته روژه وايي

**سوال:** د قرآن کريم هغه کوم سورت دی چې (بسم الله) پکې دوه ځل راغلی؟

**ځواب:** سوره نمل

**سوال:** د قرآن کريم هغه کوم سورت دی چې بسم الله پکې نده راغلی؟

**ځواب:** سوره توبه.

**سوال:** صحابي چاته وايي؟

**ځواب:** صحابي هغه چاته وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په ژوند ليدلی وي ايمان يې پرې راوړی وي او د ايمان سره وفات شوی وي.

ولي چاته ويل کېږي؟

**ځواب:** ولي هغه چاته ويل کېږي چې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقو باندې روان وي، زيات عبادت کوي، د گناهونو څخه ځان ساتي ، متقي او پرهيز گار وي ، ددنيا د مال څخه بې پروا وي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره زياته مينه لري.

Scanned by CamScanner

ملايکې(پرښتې) څوک دي؟

**ځواب:** پرښتې د الله تعالی پواځينی مخلوق دی چې نه نارينه او نه ښځينه دي ، ګناه نه کوي ، شپه او ورځ د الله تعالی په عبادت کې مشغولې وي له نور څخه پيدا شوي دي ، کوم کارونه چې الله تعالی ورسپارلي دي د هغې په سرته رسولو کې هيڅ ډول سستي نه کوي.

**سوال:** د قرآن کريم تر ټولو لوی سورت کوم يو دي؟

**ځواب:** سوره البقره.

**سوال:** د قرآن کريم تر ټولو وړوکی سورت کوم يو دی؟

**ځواب:** سوره کوثر.

**سوال:** هغه ماڼۍ چه دجوړولواصلي انګيرنه يې عشق کومه څه نوميږي؟

**ځواب:** تاج محل.

**سوال:** هغه کوم حيوان دي چې ټوله نړۍ ورته يو رنګ(بليک اينډ وايټ) ښکاري؟

**ځواب:** سپی

**سوال:** په پښتوکي د افغانستان د يو ولايت نوم معکوس د صحت مفهوم ورکوي؟

**ځواب:** غور.

**سوال:** د ځوي د ماما مور، د ځوي د پلار څه کيږي؟

**ځواب:** خواښې.

**سوال:** امير کروړ په کوم کال وفات شو؟

**ځواب:** ((١٤٥)) هـ کال.

**سوال:** امیر کروړ په کوم جنګ کې ووژل شو؟

**ځواب:** دپوشنج په یوه جنګ.

**سوال:** په افغانستان کې لومړنۍ د معارف مجله څه نومیده؟

**ځواب:** معرف معارف.

**سوال:** د معارف د مجلې لومړی ګڼه په کوم کال خپره شوه؟

**ځواب:** ((١٢٩٨)) هـ ش کال د سنبلې د میاشتې په لومړۍ ورځ.

**سوال:** په افغانستان د ښځو لومړنۍ اخبار څه نومیده؟

**ځواب:** ارشاد النسوان.

**سوال:** کوم هیوادونه د کال دوه فصله لري؟

**ځواب:** هغه هیوادونه چې سمندر ته نږدې او یا د استوا کرښې ته نږدې پراته وي.

امیر کروړ ته ولې کروړ وایي؟

**ځواب:** ځکه چې په یوتن له سلو کسانو سره جنګیده.

**سوال:** بلخ ولایت ته ولې ام البلاد (ښارونو مور) ویل شوی دی؟

**ځواب:** ځکه چې په تاریخ کې ډیرو یاړ اوښه نوم لریك

**سوال:** په افغانستان کې لومړی خپرونه څه نومیده؟

**ځواب:** دا خپرونه شمس النهار نومیده.

**سوال:** ژبه څه ته وایي؟

**ځواب:** ژبه د هغو کلیمو او خبرو ټولګې ته ویل کیږي چې یو څوک یې بل چاته د خپل فکر د بیان لپاره کاروي.

Scanned by CamScanner

**سوال:** ګرامر څه ته وايي؟

**ځواب:** ټولې هغه قاعدې او قوانين چې د يوې ژبې د سم ويلو او سم ليکلو په اړخ خبرې کوي د ژبې ګرامر ورته وايي.

**سوال:** په افغانستان کښې د ماينونو او ناچاودو توکو له کبله په هره مياشت کې د قربانيانو شمير تر څو پورې رسېږي؟

**ځواب:** تر پنځو پورې رسيږي.

**سوال:** بيټ نيکه څوک ؤ او د کومو پيړيو تر منيځ يې ژوند کاوه؟

**ځواب:** بيټ نيکه زمونږ له نوميالیو نيکونو څخه دی چې د ۳۰۰ او ۴۰۰ کلونو تر منځ يې ژوند کاوه.

**سوال:** د هغه دوو ناولونو نومونه واخلئ چې په لومړی ځل پښتو ته را ژباړل شوي دي؟

**ځواب:** ((مرآة العروس)) د ((نقش نګين)) په نوم اروا ښاد ميا حسيب ګل کاکا خيل له خوا او ((توبة النصوح)) د اروا ښاد ميا محمد يوسف کاکا خيل له خوا په پښتو ژباړل شوي.

**سوال:** ((ادب)) کلمه څه مانا لري؟

**ځواب:** د ادب کلمه بيلا بيلې مانا ګانې او تعبيرونه لري چا د نفس تاديب او تهذيب بللی او چا د انساني معارف او تجربو زده کړه ادب په عام مفهوم د انساني ښيګڼو ټولګی ته ويل کيږي.

**سوال:** ((انتولوجي)) اصطلاح څه ته وايي؟

**ځواب:** انتولوجي ((انتوګرافي)) دبشر د توکم او نژاد په باب علمي څيړنو ته ويل کيږي.

**سوال:** ارکیالوجي څه ته وايي؟

**ځواب:** ارکیالوجي ((ارکیالوژي-لرغونپوهنه)) د نړۍ د لرغوني تاریخ په باب د لرغونو انسانانو،لرغونو تمدنونو او لرغونو موجوداتو په اړه څېړنې ته وايي.

**سوال:** د ننګرهار ولایت د کتاب پلورنځیو مرکز چیرته موقعیت لري؟

**ځواب:** د مخابراتو او تالاشۍ چوکونو تر منځ اسحاق زی مارکیټ کې.

**سوال:** د ننګرهار ولایت مشهورې کتابخانې او خپرندویه ټولنې څه نومیږي؟

**ځواب:** عبدالمجیدمومند خپرندویه ټولنه،مسلم خپرندویه ټولنه،عنایت خپرندویه ټولنه،مازیګر خپرندویه ټولنه،اریانا خپرندویه ټولنه او داسې نور...

Scanned by CamScanner

دویمه برخه:

## عمومي معلومات

### تر ټولو وړاندې څه وشول او چا وکړل؟

لومړی کس چې عرب یې دبوتانو عبادت ته را غونډ کړي وو، د هغوی پاچا (عمرو بن عامر) و.

لومړی کس چې په اسلام کې یې د غلاء په جنایت لاس پرې شوی (الخیار بن عدي) نومېده.

لومړنۍ ښځه چې د غلاء په جنایت یې لاس قطعه شوی د مخزوم له قبیلې ځخه وه چې (فاطمه) نومېده.

لومړی انسان چې د خدایی دعوه یې کړې وه، نمرود و.

لومړی پېغمبر نوح علیه السلام دی چې د کفر او بت پرستۍ د مخنیوي لپاره را لیږل شوې وه.

لومړی کس چې د غیرالله په نوم یې ځناور آزاد پرېښودلی و (عمرو بن لحی بن قمعه) و.

تر ټولو وړاندې تصویر جوړونه د نوح علیه اسلام په امت کې پیل شوه.

لومړی ځل د پاره د امریکا (پنسلوانیا) ایالت کې د تیل ایستلو لپاره څاه وکنل شوه.

لومړی عربي اخبار د مصر په پلازمینه (قاهره) کې چاپ شو.

Scanned by CamScanner

## د معلوماتو له نړۍ څخه

حضرت ادریس علیه السلام ۱۸۴ ښارونه ودان کړي وو.

حضرت عثمان رضي الله عنه، حضرت تمیم رضي الله عنه او لوی امام ابوحنیفه رحمه الله په یو رکعت کې ټول قرآن ختم کړی.

ابن جوزي ۲۰۰۰ ټوکه کتابونه پخپلو ګوتو لیکلي چې ۲۵۰ یې خپل تألیفات وو.

د حضرت ایوب ۴ اووه زره مېږي، درې زره اوښان او پنځه سوه جوړې نور څاروي درلودل.

مولانا سید نور سعید د لغمان ولایت د کوهستان استوګن دی، چې په څلویښتې کې یې د رضاعي مور دتي رودنې په مهال د غاړې ګریوان رنګ لیدلی و اوس هم ور ته یاددی چې د ګرېوانه لاندینۍ برخه یې شنه او د غاړې سره لګېدلې ټوټه یې سور رنګې وه.

د محمد بن قاسم اصلي نوم (عماد الدین) و.

د مخ زیږدي تاریخ دوره د عیسي علیه اسلام په زوکړې پای ته رسیدلې او د زېږدیز (میلادي) کال پیل شو.ل کېږي.

د یرموک په جګړه کې د رومیانو پوځ ۵۰۰۰۰۰ پینځه لکه او د مسلمانانو شمېر پنځوس زره کسه و، خو جګړه مسلمانو وګټله.

د مکې له فتحې وروسته د روژې په میاشت کې د هجرت په ۸ کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امر د بنو کنانه لوی بت (عزا) حضرت خالد بن ولید، مات او ټوټه کړ.

## دینونه

په نړۍ کې نږدې د زرو دینونو لارویان شته دي.

ټول اسماني دینونه په آسیا کې منځ ته راغلی دي.

د اسلام مبارک دین په عربستان کې نازل شوی دی.

عیسویت او یهودیت په فلسطین کې نازل شوی دی.

بودا یي دین په نیپال کې جوړ شوی.

هندوییزم په هندوستان کې جوړ شوی دی.

## انسان

انسان په وجود کي ۳۰۰ رګونه دي چې بدن ته وینه برابروي.

د انسان د سر کوپړۍ ۲۲ هډوکې لري.

د انسان تر مړینې وروسته د هغه زړه شل دقیقې ژوندی وي.

د انسان د بدن انرژي که په برېښنایی انرژي بلده شي، کولی شي دوه دقیقې ۶۰ ولټه ګروپ پل وساتي.

د هجرت پر مهال حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ثور غار کي درې شپې وکړې، د ابوبکر رضي الله عنه لور اسماء به ډوډۍ ور وړله.

کفارو به ویل: که محمدصلی الله علیه وسلم ځایږي، چا لیدلی وي، او ورو یې ښود، نو ۱۰۰ اوښان به جایزه ورکړي.

د غزنوي لړۍ وروستی پاچا سلطان مسعود د سلطان محمود زوی دی.

د لودي لړۍ وروستی پاچا سلطان ابراهیم لودي دي.

د سدوزیانو د لړۍ وروستی پاچا کامران د شاه محمود زوی دی.

## هندوستان

۱-هند د پرخوالی له پلوه په نړۍ کې دریم لوی هېواد دي.

۲-د هند د (چای) لوی بندر کلکته دی.

۳-د هند لومړنی ولسمشر میرکلام دی.

۴-هند له بنګلادېش نه ۲۳ ځلې پراخ دی.

۵-په ۲۰۵۰ ز کال کې به په هند کې ۱۴۰۰۰ میلیونه خلک اوسیږي.

٦-هر کال په هند کې د اور ګاډی (نړدې) درې سوه ترافیکي پېښې کېږي.

۷-په هند کې پنځه میلونه خلک د ایډز په ناروغۍ اخته دي.

۸-نړۍ کې تر ټولو خوشحاله خلک د هندوستان دي.

۹-تر ټولو زیات چای په هند کې تولیدیږي.

Scanned by CamScanner

## د افغانستان په اړه يې ولولئ

۱-دافغانستان دريمه برخه ځمکه غرونو نيولې ده.

۲-افغانستان له انګلستان څخه دوه نيم ځله لوی دی.

۳-افغانستان ته د غازي امان الله خان په وخت کې چای راوړل شو.

۴-افغانستان د اسيا زړه بلل کېږي.

۵-افغانستان د پرخوالي له پلوه په اسيا کې لسم هېواد دی.

٦-افغانستان له امريکا څخه ۴۰ ځله کوچنی دی.

۷-لوی احمدشاه بابا زمونږ د هېواد نوم افغانستان اېښی دی.

۸-نږدې اته سوه زره افغانان معيوب دي.

۹-په هرو شلو افغانانو کې يو معيوب دی.

۱۰-په افغانستان کې لومړي ځل لپاره ساعت (۱۲۹۰هـ) کې راوړل شوی.

۱۱-په افغانستان کې لومړی ليرونکی داستان په (۱۹۲۷هـ)کې عبدالاکبر د درې يتيمانو په نامه جوړ کړی او ننداري ته وړاندې کړ.

۱۲-افغانستان کې لومړي ځل لپاره په (۱۳۱۵هـ) حيواني کلينيک په کابل کې جوړ شو.

۱۳-په سلو کې ۹۷٪ افغان ماشومان بې وزله دي.

۱۴-په ۱۰۰ کي ۹۰ افغان ماشومان په کور کې زېږېږي.

Scanned by CamScanner

## امریکا

هر کال په امریکا کې پنځه لکه خلک په اتشک ناروغۍ اخته کېږي.

د نړۍ تر ټولو لوی کتابتون په امریکا کې دی، شپږ دېرش میلونه ټوکه کتابونه لري.

په ۱۹۴۵ اگست امریکا د جاپان په هیرو شیما ښار باندې اټوم بم وغورځاوه چې ۹۰ زره جاپانیان مړه او ۷۵ زره پکې ژوبل شول. څو ورځې وروسته یې د جاپان به پل ښار ناگاسا کې هم اټوم بم وغورځاوه.

د امریکا وحشي حمله پر افغانستان، د امریکا په تاریخ کې اوږده شوه.

## دانسان ماغزه لکه بې واکه سپند،که چېرته راکابونشي .

۱۵-په هرو شپږو ماشومانو کې یو یتیم دی.

۱۶-په هرو اوو افغان ماشومانو کې یو کار کوي.

۱۷-په هرو پنځو افغان ماشومانو کي یو ښوونځی ته نه ځي.

۱۸-په هرو پنځوافغن ماشومانوکې له څلورکلنۍ وړاندې یو مري.

۱۹-د افغانانو منځنی عمر ۴۴،۴۵ کاله اټکل شوی.

## تر ټولو لوړه مناره

د دنیا ترټولو لوړه مناره د شاه حسین ثاني د جومات دی، چې د مراکش په ښار کې په سابلانکا کې واقع ده.

Scanned by CamScanner

د دې جومات په تعمير باندې ۲۱ کروړه ۸۰لکه پونډه مصرف شوي دي. د دې جومات د منارې لوړوالی ۵۷۶ فټه دي.

## درې زهين ماشومان

درې ماشومانو، چې د نبي اکرم (ص) په مجلس کې به ډېر کښيناستل او هغه سره به يې ډېره مينه کوله اتفاقي خبره داده چې ددرې واړو نومونه عبدالله وه.

پېغمبر صلی الله عليه وسلم د دوی خدمت او محبت وليده نو هغوی ته يې دعا وکړه، د هغې مباکې دعا لامله دا درې واړه په خپل فن کې امامان شول.

۱-عبدالله بن مسعود (رض) امام الفقهاء جوړ شو.

۲-عبد الله بن عباس (رض) امام المفسرين جوړ شو.

۳-عبدالله بن عمر (رض) امام المحدثين جوړ شو.

## يوه يې واده ورځ او بله يې د مرگ ورځ وه

د اسلامي نړۍ ستر ساينس پوه (ابن رشيد) له مطالعې سره دومره بې کچه مينه درلوده چې ټول ژوند يې په مطالعه کې تېر کړ، پر ته له دوه ورځو څخه چې يوه يې د واده او بله يې د مرگ ورځ وه.

**فکر وکړئ، زده کړئ، زيار وباسئ، کار وکړئ، د عقيدې خاوند اوسئ او د بري سره ژوند وکړی.**

تمت بالخير

پای

Scanned by CamScanner



## د اوریاخېل پېژندنه

د چنار په شانې ونه لکه د سپوږمۍ گرد مخ، غټې سترگې، غنمرنگه څېره او له مسکا او مينې ډکه خوله يې خلک له ورايه پر ځان مَېنوي، عجيبه ښايسته او ښکلي خويونه لري، نرمې خوږې خبرې يې څوک چې واوري بيا د زړه ډگر څخه نه وځي.

ډاکتر جاويد اورياخېل د ثمرگل اورياخېل زوی او د مرحوم ستانه گل اورياخېل لمسی، د زېږېدو خاپوړو او د ماشومانه قدمونو ځای يې د کابل ولايت د سروبي ولسوالۍ د سرچينو د لوی کلي (۱۳۷۲) لمريز کال فاني دنيا ته سترگې غړولي او د سروبي ولسوالۍ د حاجي نظربابا د عالي لېسې څخه (۱۳۹۰)کال فارغ، خو اوس د خپل شوق او ذوق له امله او په خپل زړه د ننگرهار د سپين غر پوهنتون د طب پوهنځي زده کړيال دی.

الله تعالی دی وکړی چی په دعاگانو کې يې هېر نه کړئ، زه ورته د ژوندپه کارونو کې برياليتوب غواړم.

په مينه اودرنښت

عابدزی

pdf by melma

عنايت خپرندويه ټولنه
اړيکشمېرې: 0788 770 708 - 0791 980 801
برېښناليک: Mrinayat_qaree@yahoo.com
فيسبوک: Inayat Abidzai

Designed by: Abdul Hadi Asar
Facebook/کتاب ملاتړ ټولنه